مورچل

یوولسم کال نهمه، پرلپسې ۱۰۹مه ګڼه،
ذی الحجة۱۴۳۸هق، سپتمبر۲۰۱۷م

دتلې دشپږمې یاد



- دطالب سیاست دصلیب سترګې وبرېښولې
- که چیرې دامریکا دورستۍ خونړۍ پیښې مسؤل مسلمان وای؟
- اشغالګر د خپل تاریخي شکست پټولو په لټه کې دی !!
- امریکایي رسنۍ حقایق مسخه کوي!!
- دیرغل دشپې سپیره سهار!
- دحدیبې عمره او درضوان بیعت

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

يو ولسم کال نهمه، پرلپسې ۱۰۹مه ګڼه، ذي الحجة ۱۴۳۸هـ ق سپتمبر ۲۰۱۷م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	بلک هوک الوتکې به د جهادي فعالیتونو مخنیوي کې.	۳
۳	د یرغل د شپې سپېره سهار!.....	۵
۴	د طالب سیاست د صلیب سترګې وېرېنولې.....	۸
۵	د اسې ډېرې چورلکې او الوتکې مجاهدینو رانسکورې	۱۰
۶	که چېرې د امریکا د خونړۍ پېښې مسئول مسلمان وای؟....	۱۲
۷	امریکایي رسنۍ حقایق مسخه کوي!!.....	۱۴
۸	مورال چا بایللی دی؟.....	۱۷
۹	اشغالګر د خپل تاریخي شکست پټولو په لټه کې دي!...	۲۰
۱۰	طالبان...تر یرغل ۱۶ کاله وروسته.....	۲۲
۱۱	د اسلام غزوات او سرایا.....	۲۳
۱۲	جنګي جنایتونه سپتمبر	۲۷
۱۳	د مورچل وړمې.....	۳۰
۱۴	د سپتمبر د میاشتې جهادي خبرونه.....	۳۲
۱۵		

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی :

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

سرمقاله

دتلې شپږمې یاد

له سره ښامار او کمونیزم سره دجهاد ددورې خلک کـه هغـه وخـت ددغـه جهاد اوقربانیو دآرمان شپبې ورپه زړه کړي او هغه تلوسه چې ددغـه ارمـان پـوره کېدوته یې لرله، ورپه یادکړي، چې راتلوته یې لانورو څومره قربانیوته هم تیـاروو! په تېره هغوی چې دخپلمنځي جګړو په اورکې سوځل اوبالاخره ټول هغـه افغانـان چـې نـور دافغانسـتان لـه جغرافیـوي شـتون نـه مـایوس ول !! دهغـې ورځـې د راتلوځومره ارمانجن وو چې دظلمونو ټغـر (شراوفسـاد) پکـې ټـول او دټپرجهـاد دقربانیو آرمان (اسلامي نظام) پکې قایم شي ؟!!

د ۱۳۷۵هش کال دتلې شپږمه دهمدغو ارمانونو اوقربـانیوثمره اونمونـه وه، دغه ورځ دافغانستان څه چې داسلامي نړۍ په تـاریخ کـې هغـه ورځ ده، چـې کـه هیڅکله بیا رانه شي، نو هیڅکله به هېره هـم نـه شي، هغـه ورځ چـې لـه پېړیـو

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

وروسته نړیوالو اوپه خاص ډول مسلمانانوته پکې داسلامي نظـام نمونـه وړانـدې شوه او د یویشتم قرن مجدد مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په خپل ابتکار او سرښندنه دامیرالمؤمنین عمربن عبدالعزیزرحمه الله یاد راتازه کړ، چـې په دې ډول یې داسلامي امت په مړه جسدکې ساه پوکړه اودناهیلۍ له تروړمیـو یـې دسپین سباوون په لوري د دوی قافله روانه کړه .

داستکباري طاغوت په وړاندې دنن سرښندنې هم دهماغه تسلسل یوه برخه ده چې داخلاص او للهیت له شامته یې دتلې دشپږمې ټمره لېدلې، ځکه خـو نـاهیلي نه دي او ددښمن لړزېدلو پښوته په کتو دغه ورځ یو واربیا ډېره نږدې بولي .

ددښمن دنن لوېدلی مورال او دمجاهدینو لوړه روحیه چې پـه حقیقـت کـې دیوه لوري بریا او دبل ماته ښیي، هغه څه دي چې پرهیواد دیرغل په لومړیو شـېبو اوحتی څو کلونو پورې یې چا تصور هم نه شو کولای، تردې چې دادی جګړه دومره اوږده شوه چې په امریکا کې دا دریمه دوره ده حکومتونه بدلیږي او ددغـې جګـړې دبایللو دېپغور داغ له ځانه سره په ټنډه وړي .

لله الحمد اوس چې زمونږ بریا یقیني شوې اوپه خپل تېـر تـاریخ کـې دتلـې دشپږمې ویاړ لرو دیوې بلې دغسې ویاړمنې ورځې راتلوته تیاری مو له یـوه داسـې پراوه تېریږي چې له مجاهدینو او مسؤلینو په وروستیو شېبو کې دشته ننګونـو او دلنډې مودې ازمایښتونو په وړاندې صـبر او اسـتقامت غـواړي، لـه متعـال خدایـه دهرډول ستونزو او ابتلاوو په وړاندې دثبات او استقامت دعـاغواړو ، الله تعـالی دې وکړي چې دتېر په څېر مو له دغو ننګونو اوابتلاوو هم بریمن وباسي .

نستعین الله وهو ولي التوفیق

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

بلک هوک الوتکې به د جهادي فعالیتونو په مخنیوي کې څومره اغیز ولري؟

شاهد (غزنیوال

د روان کال د تلې د میاشتې په ۱۵ د کابل رژیم ګوډاګي رژیم مشر ـ کندهار ته ولاړې تر څو له امریکایي بادارانو څخه د بلک هوک جنګي الوتکو له جملې څخه یې څلور څرخکې تسلیم کړي.

:د امریکایي سیکورسکي کمپني ساخت یو ایچ -٦٠ بلک هوک (UH-٦٠ Black Hawk) دوه ماشینه ټرانسپورتي پوځي الوتکې په کال ۱۹۷۴م کې جوړې شوې او په کال ۱۹۷۹ د امریکایي پوځ لخوا عملا په پوځي چاروکې استخدام شوې.

یادې الوتکې چې په لومړي ځل ۲٦۰۰ پرونده جوړې شوې د امریکا د متحده ایالاتو لخوا سعودي عربستان او ځینو نورو هیوادونو ته هم ورکړل شوې.

بلک هوک څرخکې که څه هم د جنګي الوتکو په جمله کې شمیرل کیږي خو ډیروخت له هغو څخه د پلیو جنګي ځواکونو په انتقال کې کار اخیستل کیږي.

بلک هوک یواځې په یوه ماشیندار مجهزې دي او د امریکایي اي یې -٦٤اپاچي ډوله AH-٦٤ Apache))څرخکو برعکس رهبري شوي توغندویي سیسټم نه لري او نه یې هم د پرواز وړتیا د اپاچي څرخکې په څیر ده.

د یوه پروند بلک هوک څرخکي بیه ۸ ملیون ډالره ده چې امریکایان غواړي تر کال ۲۰۲۴ پورې ۱۵۹ پرونده د کابل رژیم هوایي پوځ ته ورکړي.

د امریکایي یرغل د ۱٦ کلیزې په مناسبت یې لومړی جوړه وسپارل شوه.

د بلک هوک الوتکو لومړی جوړه امریکایي ځواکونو په کندهار هوایي ډګر کې افغان لوري ته وسپارلې.

د دغو څلورو تر وختو تیرو الوتکو د تسلیمي لپاره یې هم د کابل ګوډاګي رژیم مشر ـ اشرف غني کندهار ته وروغوښت.

امریکایانو کولای شوای یادې الوتکې د کندهار په حاي په بګرام او یاهم د کابل په هوایي ډګرکې د هوایي پوځ چارواکو ته سپارلې وای خو په دې غرض چې له یوې خوا د اکتوبر ۷ د یرغل د ۱٦ کلیزې یاد پرې ژوندي شي او له بلې خوا د اشرف غني په کچه د افغانستان لومړی نمبر شخص د هغو تسلیمي واخلي دهمدغه تبلیغاتي اهمیت له مخې یې یادې الوتکې د

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

کابل په ځای په کندهار کې د دفاع وزارت په ځای شخصا ولسمشر ته وسپارلې.

ایا هغه جګړه چې بې ۵۲ پرمختللیو الوتکو کنټرول نه کړه تروخت تیرې بلک هوک به یې کنټرول کړای شي؟

اوس پوښتنه دا ده چې د افغانستان هغه جګړه چې په تیرو ۱۶ کلونو کې امریکایانو د نړیوال پوځي ایتلاف او ناټو ټرون په حمایت او د بې ۵۲ مجهزو او پرمختللیو جنګي الوتکو په وسیله کنټرول نه کړای شوه ایا دغه تر وخت تیري بلک هوک څرخکي به یې کنټرول کړای شي؟

حقیقت خبره داده چې امریکایان نه افغانستان ته د جګړې د کنټرول لپاره راغلي ، نه ټرمپ خپله جنګي تګلاره د جګړې د کنټرول لپاره اعلان کړې او نه هم واشنګټن کابل ته بلک هوک الوتکې د جګړې د کنټرول لپاره ورکړي.

بلکي بلک هوک څرخکې د یوه داسې نامعلوم قرار داد له مخې کابل ته ورکول کیږي چې نه یې د قراراداد لوری معلوم دی ، نه یې د قرار داد وخت معلوم دی او نه یې هم قیمت.

چې په دې ډول سره ویلای شو چې بلک هوک هغه تر وخت تیر خیراتي الوتکې دي چې د امریکایانو لخوا یې له کابل رژیم سره د ورکړې ژمنه شوې خو مالومه نه ده چې دا به په څومره وخت کې پوره کیږي؟

د افغانستان د نظامي چارواکو له نظره یادې الوتکې نه افغان پلوټان کارولی شي او نه هم د هغو د ترمیم او بیارغوني لپاره کوم ورکشاف د افغانستان په داخل کې شتون لري.

د دفاع وزارت اړوند پلوټان په روسیه کې جوړې شویو ام آی ۱۷ ډولـه څرخـي الوتکـو سره بلدیت لري چې د بلک هوک تخنیک له هغوي څخه بلکل توپیر لري ، ځکه یې هغوی ته په لنډ وخت کې کارول هم ګران کار دی.

ښایي د بلک هوک الوتکو برخلیک به هم د امریکا د هغو مستعملو جنګي جیټ الوتکو په څیر وي چې د میلیاردونو ډالرو په قیمت د افغان هوایي ځواک د اکمالولو په پلمه کابل ته را ورسول شوي او پرته له دې چې یوه ورځ تري استفاده وشي د کابل په هوایي ډګر کې همداسې معطلې ولاړې دي چې ځینې یې د دولتي مفسدینو (غلو) لخوا پارچه شوي او د کباړ په بیه پرپاکستاني کباړیانو وپلورل شوي.

خلاصه: دا چې امریکایي پوځ د معمول له مخې کابل رژیم ته تل هغه څه په واک کې ورکوي چې نور یې په امریکا کې د استعمال موده پایته رسیدلې وي.

بلک هوک الوتکې هم د هغو ایکسایپر شویو څرخکو له جملې څخه دي چې له جوړیدو څخه یې پوره ۴۳ کاله وخت وتلی او تراوسه پوري د امریکایي پوځ لخوا په داسې ډول کارول شوي چې د استخدام موده یې بلکل پای ته رسیلې.

د نظامي کار پوهانو له نظره دا بلکل ناشونې ده چې یادې څرخکي دي په هغې جګړې کې موثریت ولري چیرته چې بې ۵۲ ، ایف ۱۶ او AH-۶۴ ((Apache مدرنو الوتکو بریالیتوب تر لاسه نه کړای شو.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ديرغل د شپې سپېره سهار!

ـــ ارمـــان

شـپاړس کالـه وړانـدې دمیـزان ۱۵ (داکتـوبر پـه اوومـه) مـه وه، دهېـواد پـه ختیځ جلال اباد ښار کې له څو تنـو ملګروسـره یوځـای وم، دکنـدهاریانو پـه خبـره بانډار موکـاوه ،ماسـخوتن مهـال ناڅاپه دغټو اوقوي چاو دنو لړزونکي شور او غږ ټول هک پک کړو او ورخطاء، ورخطاء دکـور بیـرون انګـړ تـه ووتـو اوګـورو دا څـه پـیښ شـول؟ پوشو چې دا د امریکا لخوا پـه افغانسـتان د یرغـل کولـود پیلبدمرغه شیبې دې ، طبعاً له املـه خوابـدې او اندیښـمن شـوو ، اوپـه دې فکرکـې هریـو غرق شو زمونږ هېواد اوخلک دیـوې غمیـزې نـه وې خـلاص چې پرې بله را ودانګې.

داچې شپه وه معلومـات منـدل ګـران و ، ځکـه دطالبـانو مسؤلینو هم لـه وړانـدې څخـه دجنګې تاکتیک له مخې خپل میشت ځایونه تغیر کړي وو ؟ معلومـه مـونکړه چې دامریکـا په بریدونوکې څومره تلفات او زیانونه پیښ شول

بیرتـه خـونې تـه پـه تنوتـو مو راډیو تـه لاس کړ ، هغه مهال پـه افغانسـتان کـې دنویـو خبرونـو او حالاتونـه دخلکـو خبریدو یواځینی زریعه راډیو وه ، دنن سبا په څېر پرمختللي رسنیزو سـایل لکـه انټرنیټ، فیسبوک، واټ ساپ،ټویټر او نور... نه وو

راډیـو مـو چـالان کـړه مشهور راډیوي چینلونه بي بي سي او امریکا غږ موپیدا کړل پـه دواړو کـې مهـم خبـر د افغانسـتان دامریکـالخوا ددې یرغـل پـه اړه و دکـوم وحشیانه غږونه چې مونږ پخپلو غوږو واوریدل

بي بي سي او امریکا غږ دواړو دامریکا او یرغلګرو پـه پلـوی تبلغـات کـول، هغـوی دامریکایـانو پـه فرمـایش

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دطالبانو په خلاف پراخ پروپاګند کاوه، چې له املې يې طالبانو دخپل واک په وروستيو کې ديته اړشول چې دځينو ښکاره سرغړونو په وجه په بې بې سې افغانستان کې ځيني قيوادت اولګوي

بې بې سې ته غوږشو، دپښتو او فارسي خپرونو زياتره وخت يې دامريکا يرغل ته ځانګړی کړی و، او په خورا ستوغه او جارحانه لهجه يې دطالبانو، مجاهدينو، شيخ اسامه بن لادن او دهغه دملګرو په خلاف تبليغ کاوه او په افغانستان کې دامريکا دبري په اړه وړاندوينې او شننې کولې

لږه شيبه پس بې بې سې له خپل همکار ژورنالست رحيم الله يوسف زي نه دامريکا دحملو به اړه معلومات وپوښتل، يوسف زي په کندهار، کابل او جلال اباد دامريکا دشويو حملو په اړه لږ ډير معلومات ورکړل هغه ويل دبريدونو دتلفاتو په اړه ځکه تفصيلي معلومات او اقام ورسره نشته چې يو خوا شپه ده اوبل په افغانستان کې دتليفون او دا ډيکو نيولو دنورو اسانتياوونشتوالي په وجه چاسره تماس نه نيول کېږي .

ډاکټر عبد الله دبې بې سې فارسي خپرونې سره په خبرو کې دامريکايانولخوا د يرغل ډېر تودهرکلی وکړ او دهغوی بريدونه يې بريالي او هدفمن اوبلل بلکې له دې لارې امريکايانو ته يې نورکردينات ورکړل چې فلاني، فلاني موقعيتونه بايد په نښه شي، هغه دامريکا په يرغل دومره خوشال و تابه ويل:لکه مسعود يې ببرته ژوندی شوی وي..

څه وخت وروسته بيا دبمبارد او مزايلو لګيدو غږونه پورته شول، دطالبانو دافع هوا اهم فيرونه کول خو داچې د طيارو ارتفاع ډېره لوړه وه ددافع مرکزي ترهغو نه رسيدل

دخپل هبواد او ولس ددې بې وسۍ نه ډک حالت په ليدو زيات وځوريدم او راته دعلامه اقبال لاندې شعر ذهن راغی: تقدير کې قاضي کا يه فتوا هي ازل سي

هي جرمِ ضعيفي کې
سزا مرګ مفاجات

دازل نه دتقدير دقاضي فتوا داده چې هرځوک دضعيفانه جرم مرتکب شو دهغه لپاره سزا ناڅاپي مرګ دی

خدای شته دې ډېر ځورولم چې دامريکايانو طيارې به په دومره لوړه ارتفاع کې راتلې چې زمونږ ددافع هوا مرکزي ترهغو نشوای رسيدای !! په دې به خجالت هم راته او خفګان هم... او ګناه زمونږ نه وه، بلکې دتولې اسلامي نړۍ او بالخصوص دمسلمانو واکمنو وه چې

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

هغـــوی ټـــول عمـــر عبـــث پخپلمنځي جنګونو کې تیر کړ او هیڅ یې ترلاسه نکړل ټول عمر په عیاشیو او مستیو کې اخته وې هره ورځ په ملیونونو ډالر په خپلو شخصـي عیاشـیو لګـوي خـو دمسـلمانانو داجتماعي وجود دبقا او دفاع په لارکې لس ډالره هم نه لګوي

بـاور وکـړئ داسـلامي هېواد و واکمنو که په سائنسي علومـو کـې لاسـته راوړنـې درلـودای اوپکـې دغـرب سره یې سیالي کولای شوای نن به داسلامي دنیا دامظلومانه حال نه وای هرکه برماست ازماست په مصداق مورږ اسلامي نړۍ خپلـو واکمنـو د مرګونـو او ناخوالو په ګرداب کې داسې ټړلې یو چې تړې دوتولپاره لاسـونه او پښـې هـم نشـو خوځولی...

ټولـه شـپه مو پـه همـدې چرتونـو او سـوچونو کې تیـره کـړه ! سـهار مهـال لـه خوبـه دامریکایي الوتکو غړمبهار او دکروزتوغنـدیو لړزونکـو

غړونو رابیدارکړو ، په لومړي ځل مو دهېواد پرافق دنحوست بدرنګه ننبې راختلی ولیدې، هرباضمیره افغان مسلمان مې لیده چې دیونامعلوم سرنوشت له ډاره په سوچونو کې به ډوب وو دهـوس او دنیـا مینـان مـې لیـدل چـې هغـوی پهـډ پر ورخطـایې دافغـاني ننـګ او ابـرو پلورلـو بوخـت ول، پـه هېـواد او ازادی مـین زلمیـان سنګرونو ته راون ښکاریدل

بـې وسـو او مظلومـانو پخپل حالت سترګونه داوښکو په ځای وینې بهولې.

تنکـي ماشـومان همـد سهار له درانه خوبه دامریکایي الوتکـو دبمبـارد وحشـي شـور او دکـــروزلړزونکـــو غـــږ ونـوراوینې کـړي وو خـو نـه پوهیـدل چې دا ولـې ؟پـه بـره فضاء کې یې امریکایي الوتکو اوچورلکـــو جوړغومبرتـــه فکـــروړي اوحیـــران وو او لـــه خپلو میندو بوښتل پرون خو دا نه وو نن له کومه راغلې؟

او هغـــوی پـــه دې نـــه پوهیـدل چې بیګاشپه د دوی چم ته کوم بلا راننوتې؟ غواړي دوی له ستونې تیر کړي او هغه د دوی پـه وینـو خپلـه وحشـي خوا سړه ول غواړي ؟

پـــه زور او جبـــر د دوی فکرونـــه او ذهنونـــه بـــدلول غـــواړي ،نـــن شـــپاړس کالـــه وروسته هغـه دیرغـل دسهار تنکي ماشومان نیمه زلمیان او ځوانـان شـوي او پخپلـه پورتـه پوښـتنوته د ځوابونـو منـدلو ادراک لري اوپوهیږي چې چا د دوی خوبونه ترورل... او چا یې کورونه په بمونو ړنګ کړي....؟

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د طالب سیاست

د صلیب سترګې وبرېښولې

سعد کتوازی

وای اشرف غني په ښاغلي! ډونالډټرمپ غږکړی چې په قطرهیوادکې دطالبانوسیاسي دفتردې وتړي یا وتروړي، دده غوښتنه به څومره رسمي وي، خوماته یې دارواښادګل پاچاالفت دغه کیسه رایاده کړه:

وای یوخانزاده غوندې سړی په موټرکې راسره ناست و د تېروخت زړې کیسې یې کولې،دزړو خانانواو خوارانو څرګند توپیریې دابنودچې : هلته خوموټرنه ول، نو خانان به په اسونو سپاره اونوکرانو به یې په مخکې منډې وهلې، په دې سره خان،خانزاده اودآب سړي له خوارانوبېلبېدل عام اوخاص یوشان نه وو، اوس چې موټرونه راغلل خواران هم وروختل هرسړی په موټرکې سپریږي، نوکر د بادار تر څنګ ورکې ناست وي، خاني بې رونقه شوه،وای خانزاده کیسه ښه په تول وکړه،خودمطلب ټکی ورکې داو چې خاني لاړه ځکه چې خواران په موټروکې سپاره شول .

داچې طالب په نظامي ډګرکې دتاریخ دترټولوستراوبې ساري صلیبي یووالي دراپرځولو لوبه وګټله او بیا سیاسي سیالي ته وروړاندې شو دایې هم دسیال لوري په اعتراف وګټله، په دې دواړوکې یې له هغه څخه هغه څه هم په لویه پیمانه ترلاسه کړل چې سیال یې خپله ځانګړتیابلله اوطالب یې تړې لاس تشی باله! اوس نورنو پاتې څه شول؟!! دافکرپاتې شو چې زمورږدنازولوفوځیانوهغوټانګونوته هم طالب ختلی،ددوی هغه وسلې، د سمبالښت او تجهیزمهمات چې مورږله دوی پرته افغان عسکرواو اربکیانوته لانه ورکول هم د طالب لاس ته لوبدلي،د سیاست په ګډی،هم طالب ناست دی له ماوړاندې پرې هانورو ښاغلیو اعترافونه وکړل او...او... خاني لاړه دنازکو فوځیانوپرټانک اودنړیوال سیاست پرګدی موطالب کیناست .

پرې ټرمپ چې یوځل بیا دطالبانو په دې ځواکمن پوسټ سترګې وربرګې او په لوړ غږیې پرې غاړې ورتازه کړې خامخابه پرې دټولې میډیا سرخطونه سره شنه اوړي،نوداچې شونې ده یانه؟ کوم لورته یې ګټه او کوم ته زیان اوړي؟ اوپه مجموع کې هغه به څه وکړي اودغه...اوپایلي به یې څه وي؟ دابه دوی ته پرږدوتراوسه هم چې دیاددفتردکم اوکیف په اړه څه ویل شوي ورسره سم یې په تول پوره شننې هم شوې،خوداشغالګروموقف له پیله بیاتراوسه پوره څرګندنه دی اوکوم څه چې څرګنددي هغه

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ددوی لـــــــه غولوونکـــــــو سرلیکونواودطالبانوله موقف سره په ټوله ماناپه ټکرکي دي .

دطالبـانودریځ خوروښـانه و او دی چـې اشغالګراولاسـپوڅي یـې دسـولې ترسرلیـک لانـدې لـه دې حـربي سره را وړانـدې شـول چـې ولسـونوته داورتلقـین کـړي چـې ګورئ طالبان سولې ته غاړه نـه ږدي او...او... طالبانوویـــل ســـمه ده، خـــوددې لپـــاره چـــې موږدیـــوکره اومـالوم ادرس پـه درلودلـوسره ازاد، خپلواک اود نورولـه اغبـز پرتـه دغـه پروسـه بشـپړه کـړو دیـو دفتر اړتیا ده،هغـه وه چـې دخپـل سـیاسي دفترپـه پرانسـتلوپې د دوی دسـولې ددغې سـمبولیکې غوښـتنې هرکلی وکړ،خوداچې هغوی ریښتیني سوله نه غوښتله دطالبانو شرعي اوقـانوني غوښتنې اوملي سپارښـتني یـې ونـه منلې اوپه یوه اوبل نوم لـه ریښـتینې سـولې شـاته شـول اولالکـه چـې وینونورهم شاته کیږي .

طالبانوکه ځه هـم هغـه سوله لاسته رانه وړه چې ددوی په ګومـان وربلـل شـوي اودوی غوښـتله،خوله دې ماسـواړېږي لـویې هغـه لاسـته راوړنې یې درلودې چې پرتـه لـه دې دفتره یې شاید نه وای ترلاسه کـړې، لکـه نـړۍ اوولسـونوته خپلـه حقـه داعیه رسول،دځان په اړه هغوی تـه قناعت ورکول،لـه ځینوهیوادونـوسره دیپلوماتیکواړیکوتـه لاره هـواروله، دراتلـونکي پـه اړه خپلـه سـیاسي تګـلاره او وړتیاښـودل،دځان پـه اړه دخلکو ګومانونه سـمول اوشـبهاتوته یې ځوابونـه ویـل او...او...ترټولوپـه زړه پـورې داچـې دهمـدې دفترپـه سحردنامستقیمو خبروپـه تـرڅ کـي دپنځـه تنومشرانوازدول یـې یـوه تـاریخي لاسـته راوړنـه وه چـې اوس کـه دغـه دفـتروهم تـړل شي دغـه پنځـه تنـه هریوپـه بیـل هیـوادکې دیوسیاسي دفترکـار تـرسره کـولای شي،نوپـه حقیقـت کـې دطالبانولـه لـوري دســیاسي دفترپرانســتنه دهغـوی دژور سـیاسي بصـیرت لـومړۍ اولویـه نښـه وه چـې خلـک پرې ډېرنه پوهېدل .

ټرمپ دغه غوښتنه لـه داسې خـالي ککـرۍ سره تکـراروي لکـه دطالبانودسیاسي دفترپـه را منځتـه کولـوکې چـې د دوی لاس څـه چـې پښـې لاهـم وې،پـه دې مانـا لکـه لګښـتونه یـې چـې دوی ورکـړي وي،خوکه په دې ماناوي چې طالبـان دوی خپلـې سـیالي،ته وربلـلي وو هغوی ښه پـه مېرانـه ورغلـل سیالي یې هم وګټله ، نورچې دالوبه پای تـه ورسـیده دفـترهم بایـدپای تـه رسـیدلی وای،نوپـه دې مانـاخو رښـتیاهم دیاددفترپـه رامـنځ تـه کولـوکې دوی پښـې لرلـې دي، خوښېرتـه دټرلوپـه اړه یـې څـه ویـل ورتـه شرم دی کـه پـوهیږي،ټرل اونـه...یـې پرطالبـانواړه لري،اوبـل داچـې پـه دې مانـاخو بیـا دطالبـانو پرمسلح مقاومت کې هـم دوی لاس درلود، هغه تـه خـو هـم طالبـان دوی وربللي څه چې اړکـړي یې وو اوس چې جګړه هم طالبانووګټله لوبه پای ته ورسیده دوی اشغال هم بایـدپای ته ورسوي،خوچې دوی هغـه غـواړي اودغـه نـه...نوطالـب دې ډاډه وي چـــې(انهم لایکـــذبونک ولکـــن الظالمین بآیت الله یجحدون) دوی دانه چې تـه یې نـه یـې منلی بلکې دلته یوه درییمه اودرازخبره ده چې بایددټولوولسـونوورته پـام وي هغـه داچـې (دطالـب سیاسـت دصـلیب سترګي وبرښـولې)اوپه هغـه بـایللې خاني پسې یې بیاغـاړي راتـازه کـړي دي،نوځکه د یاد دفتر د ټرلو غږ نـه! دترورلوغږورته وایو.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

داسې ډيرې چورلکې او الوتکې مجاهدينو رانسکوري کړې!!

عبيد ـ تنوير

تيره ورځ دکابل دمزدور رژيم مشر دکندهار په هوايي ډګرکې دامريکايانولوري ۲۰بلک هاک هليکوپټرونو د سپارلو په مراسموکې ووئيل چې طالبان دې دافکرنکوي چې ګواکې ددوئ ځواکونوته به ماته اوشکست ورکړي .

له اشرف غني سره چې په يادومراسموکې امريکايی جنرال (جان نيکولسن) هم برخه اخيستی وه په خپل ټول بې توازنه استدلال يې خپل بادارته چاپروسي تقديم کړه چې گواکې دټرامپ له ستراتيژی ورسته حالات ددوئ په گټه تمام شوي اوپه خبره يې طالبان کمزوري شوي دي .

داشرف غني ددغه خندني اټکل په اړه لکه څنګه چې داسلامي امارت په رسمي صادره شوي اعلاميی اوغبرگون کې راغلي وو چې اسلامي امارت په افغانستان کې داشغالگرواودد ويځ دلاسپوڅوپه وړاندې رواني معرکې ته دايمان اوټکنالوژی جنګ وايی اوله شک پرته چې افغانانودايمان اوافغاني غرور په مټ دتيرو١٦ کلونوپه اوږدوکې دامريکاو۴۹ هيوادونوټولي زورازمايي ته نه داچې کلک ځواب ووايه ،بلکې پنځوس فيصده خاوره يې په خپلې ولکې کې محفوظه

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

وســـاتله ؛ چـــې دادهمدغـــه اصـل (ايـماني عـزم) اوپـاکې روحي نتيجه وه.

اشرف غنـي دې ددې يـوې خـــبري ځـــواب ووايـــي چـــې امريکايانوپـــه افغانســتان کـــې دتيـرې څـه باندي يـوې نيمـي لسيزي پـه اوږدوکـې ددې لپـاره چـې افغانـان تـابع اولـه خپلـې داعيي راوګرځوي دخپلـې قـاتلي جنګـي ټکنـالوژی کومـه برخـه وسـپموله اوکومـه وسـله يـې اســتعمال نکـړه ، لـــه (۵۲ B) نيـــــولي دبمونوترمـــــــور اودفاســـــفورس ترممنوعـــــه زهرجنـــــو مـــــوادواودږون توغنديوپوري داهرڅـه يـې پـه مظلوموافغانـــانوتمرين اوونـــه کـــارول اياامريکايـــان پـــه دې وتوانيـــدل چـــې افغانـــان يـــوه لويشت هم له خپل موقف څخه ورسته کړي ؟

نـــواوس پـــه کـــوم زور اوګوابښ اشرف غني غواړي دغه برميال ملت ويـروي اوتهديـديې کړي ؟

اشرف غني څـه فکرکـوي چې د ۲بلک هاک هليکوپټرونوپه ترلاسه کولوبه مجاهدين خـداى مکړه روحيه وبايلي اودشيطاني سولي لپاره بـه ترخپـل بـريمن دريځ تيرشي ؟ چې هيڅکله نه اودغه ارمان اوهيله بـه دمتعـال رب (جـــل جلالـــه) پـــه مرســته هغــه اورومروګورتــه وړي .

امريکايـــان شـــائيدنوري څرخکـي اوچـورلکي هـم خپـل تـــاليڅپي اداري تـــه ورکـــړي ، خومجاهدين به نه يـوائې دغـه امريکـايی چـورلکي اوڅرخکـي يوه يوه هدف ګرځوي بلکي دالله تعـالی پـه نصرت بـه هغـه څوک هم ورسره خاروي ايـري کـوي چـې څـوک يـې چلـوي اوياپکې ناست وي ، چې لنډمثال يې تيره ورځ دپروان ولايت دکوی صـــافي پـــه غرونـــو کـــې دامريکايانودستري ترانسفورتي الـــوتکي نســـکورول دی چـــې مجاهدينوويشتله اوله امله يـې لســـګونه خـــالص امريکـــايي عسکرپکې له منځه يوړل شول.

دمجاهـــدينوديوې دقيقـــي څروي له مخې يـوائې سـړکال دمنصوري عملياتوپه تـرڅ کـې دامريکايـــانواوګوډاګي رژيـــم ۱۲ مختلف النوعه چورلکي اوالوتکي او۲۲ ډرون الـــــــــــوتکي مجاهدينودجګړې په ميدان کـې راغورځولي دي .

نـــومفکر دې واوري چـــې دمجاهدينولښـــکر دمـــلي اردو، اربکيانواونورو امنيتـي ادارو پـه ځيرکرايـه شـوی اوګـرو شـوي روحيه اوانګيزه نلـري چـې يـوه مياشـت ټاکـل شـوی معـاش اوامتيازات ورونه رسـيږي نولـه وســلوسره تښــتي اوســنګرونه پريږدي

اشرف غنـي کـه دايـمان اوقربانی په مينه مست غازيـان په دغوڅوڅرخکواويادټرامپ پـه شعاري ستراتيژی که فکرکـوي چې وي ويروي نودی دې پـوه شې چې ککـره سـخته پوچـه اوهسې له بوسوډکه ده .

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

که چېرې د امریکا؟

د وروستۍ خونړۍ پېښې مسؤل مسلمان وای

خبیراحمدم

دتیرې یکشنبې په ماښام چې داکتوبردمیاشتې له دوهمې نیټې سره برابره وه یوه ٦٢ کلن امریکایي قمارباز اومیلونر (استفان پادوک) دامریکادلاس وګاس په ښارکې دموسیقی په یوه لوی جوړشوي محفل باندې وسلوال خونړی بریدوکړ، چې په ترڅ کې یې ٦٠ تنه امریکایان مړه او ٥٣٠ تنه یې ژوبل کړل

ویل کیږي چې بریدګردموسیقي میدان ته نیږدي دیوې لوړې ودانۍ په ٣٢ پوړکې ځای درلوده چې دموسیقی له شروع مخکې یې هغه ځای ته دیوې اونۍ په ترڅ کې څومیله وسله اوپریمانه مرمی انتقال کړي وي .

دامریکایي رسنیو دراپور په اساس پادوک دخپل اطاق له کړکۍ څخه دموسیقی په ګډونوالو٧٢ دقیقي جګړه وکړه او٨٠٠ مرمی یې وویشتلي وي چې اکثریت مرمی یې په هدف لګیدلي وي ، په پای کې خپله پادوک هم وړاندې تردې چې دپولیسولاسته ورشي ځان وژنه یې کړي وه

داعش په زیاتې عجلې اعلان وکړچې بریدګرددوئ دډلې سړی وو اویوه میاشت وړاندې یې له قمار اونوروناسموکړنو څخه توبه ایستلي وه اوداعش په خبره مسلمان شوی وو

خودامریکاتحقیقاتي اداري (اف بی ای) څرګنده کړه چې دوئ هیڅ داسې کوم سنداونښه نده ترګوتوکړي چې دبریدګر اوداعش ترمنځ دې تړاواوربط ثابت کړي

امریکایي رسنیوهم په یوغږ داخبره زمزمه کړه چې دلاس وګلاس په پیښه کې دمسلمانانوکوم دخالت اوارتباط نه وو!!

لدغه سپیناوي سره سم امریکایي سیاستوالو اورسنیو سختې هلې ځلې شروع کړي چې موضوع زیاته ونه شاربل شي ، دټولوپه ژبوداخبره تاویدله داچې مسلمانان دلاس وګولاس په پیښه کې لاس نلري نودوئ دې په لوی لاس دغه پیښه

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

نـه سـياسي کـوي ، بلکـې دخاموشـولوهڅه دي وکړي .

يوامريکايي ليکوال (تومـاس فريـدمن) پـه نيويارک ټايمزکې دلاس وګلاس پيښي تـه دکتنې په ترڅ کې جالب مطلب ليکلـی ويـلي يـې دي : کچيرې (استفان پادوک) مسلمان واي ، کچيـرې پادوک وړاندې تربريدځخـه دالله اکبرنعره ويـلي واي ، کچيري دپـادوک پـه يـوه لاس کـې قـران اوپه بل لاس کې يې توپک واي .....

که دغه ټول نسبتونه مخې تـه راغـلي واى ، په دغه وخت کې به يوه يوه امريکايي سياسـتوال اوامريکايي رسنيوکله هم دا داخبره لـه خـولي نـه واي راايستلي چې پام پيښه سياسي نکړي اوزيـات پرداز ورنکړي !!

ليکوال ليکلي : کچيـري بريـدکوم مسـلمان ترسره کړى واى ، پـوهيږى مونږامريکايانوبـه څـه کول؟

ولسمشرـــبه مودامريکـــا دپارلمـــان دواړو جرګګيو ته په څه کرکرو ويناوي کـړي واى، پيښـه به يې دسـپتامبرله ۱۱ نيټـي هيڅکلـه کمـه نـه وه يـاده کـړي ، دمسـلمانانوپه خـلاف دنـوو دسيسـو جوړولـو اوانتقـام اخيسـتلولپاره بـه يـې ګـن قراردادونه دمنظورولوپه خاطروړاندې کړي واى

اودامريکالړلي اوسرتمبه ولسمشر(ټرامپ) به ارومرودځومسـلمانوهيوادونوپه خـلاف دبنـديزونو لګولو اوحتى دحملوګواښونه کړى واى .

خوچې کلـه مـونږ امريکايـان وپوهيـدوچې بريدګرسوچه امريکايي اومسلمان نـدى اوخـومره وسـله اومرمـى يـې چـې لـه ځـان سره ۳۲ پوړتـه وړي وي په لاس کې يې قـانوني اسـناددرلودل ؛ نوپه دې وخت کې مونږ سخت ټکان وخوړ، ځکه مـونږ فکرکـړى وو چـې دغـه رنګـه بريـد لـه مسلمانانوپرته بـل څـوک نشي- کـولاى اوپـه دغـه صـورت کـې کـې امريکايانودمسـلمانانو پـه خـلاف دکلکوسپکو سپورو ويلو او څه کولو پـوره امـادګي درلوده اوپه عين کې حال دټرامپ دادارې لپـاره يـــوه ښـــه پلمـــه پـــه لاس ورتلـــه چـــې دمسلمانانودتجريدولو او ټکولو لپاره يې په امريکـا اوله امريکا بهر ګامونه اخيستى واى

خوداسې و نشول سړى امريکايى اونصرانى وخوت !!

بـرعکس پـه امريکـااوغرب کـې مسـلمانانوته داچـانس پـه لاس ورغـى چـې ووايـي کچيـرې دسپتامبرد۱۱ نيټې غيرجانبداره تحقيـق اوخيـرني وشي ، ممکن په هغه کـې ترمسـلمانانوزيات خپلـه دامريکايـــانولاس اومرســـته مخـــي تـــه راشي اودمسلمانانوپه خلاف چې ديولسم سپتامبر دپيښـي په غچ کې امريکاځه کـړي اويـايې کـوي هغـه بـه خامخا دمسـلمانانوپه حـق يوجـوړه شـوي دسيسـه وبلل شي .

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

امریکايي رسنۍ حقايق مسخه کوي!!

ليکوال :مفتی محمدگل سعيد

داسلام دښمنانو تل داسلام اواسلامي امت سره نه تاميدونکي هراړخيزجنګ پيل کړی دی،اوپه خاص ډول يې دتيرو١٦کلونوپه موده کې داسلامي امت په خلاف له وسلوال جنګ سره سره فکري اوسايکالوجيستي جنګ ته هم دزمانې له غوښتنوسره سم دخپلونو يوشيطاني پلانونوپه جوړولوسره ادامه ورکړې ده،په دې تکل چې اسلامي امت هم په هراړخيزه توګه دځان په ځيرکړي،اودتوحيدلـه سمې لارې څخه يې منحرف کړي ،اوکه وکولای شي بيخي يې داسلام له حق دين څخه واړوي. يهوديان دخپلواهدافودترلاسه کولواوپرنړی باندې دامريکادبرلاس تيااومستعمره کولولپاره دومره وسيع اوزيات وسايل تهيه کړي اوپه واک کې لري،چې دنړی زياتره متوسط حکومتونه يې نه لري.يهوديان په براخه پيمانه مطبوعاتي خپرونې لري،اوهم يې دهر هيواد لپاره دملت په ژبوجرايد،مجلې اوکتابونه چاپ اوخپروي،چې په هغوکې دامريکايي ډيموکراسي صفتونه ،په امريکاکې دمذهبي ازادی، دامريکايی توراستعمارله پلوه له بې وزلوملتونوسره مالي اوطبي مرستې بيانوي.

مسيحيت ته دعوت پکې کوي،پراسلام باندې نيغ په نيغه اوغيرمستقيم انتقادونه پکې کوي.دښځودازادی اوپه دې هکله دګولډزيهر او زوايمر يهوديانوهغه غلط اوګمراه کوونکي ناقدانه مضامين خپروي،چې داسلام دمقدس دين داجتماعي ژوندودپه خلاف يې ليکي.مطلب داچې يهوديانودخپلومطبوعاتوپه ذريعه په تيرو١٦کلونوکې داسلام په خلاف سوړجنګ پيل کړی دی،څوکه وکولای شي داسلامي امت ځوان نسل له اسلام څخه منحرف اوبې لارې کړي.،نن سباخلک په هغه څه چې پخپله پرې پوه وي له پامه يې غورزوي اوهغه څه چې په

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

نړیوالورسنیوکې نشرکیږي زیات داعتبار وړبولي، نو ریښتیاده چې دا دمیډیا یارسنیو دوردی ؛میډیاته په ډیرې لویې سترګې کتل کیږي؛مطبوعات یارسنۍ نه یوازې دمافی الضمیرداظهاربلکې دخلکوژبې اوذهنونه دخپل مافی الضمیرتابع ګرځولو اوداهدافو اومقاصدو دترلاسه کولو لپاره ترټولو ستره ،مهمه اوکامیابه وسیله ګڼل کیږي.

رسنۍ دچاپه اشاره کارکوي؟داخبره ډیره اهمه ده اوبایدچې مسلمانان پرې پوهه شي چې ددنیاپه رسنیوباندې ۹۶فیصده یوازې د(٦) کمپنیو(شرکتونو) ملکیت دی، اوهغه شپږواړه کمپنۍ دیهودیانو(jews)دي.امریکاچې پدې مادي نړۍ کې دامهال په نظامي ډګرکې ترټولوسترځواک دی نوبې له شکه چې رسنۍ یې هم په نړۍ کې ترټولوځواکمنې رسنۍ دي اوسره له دې چې دلته دیهودوشمیرډیرکم دی خوهمدوی ددې هیوادپه هغورسنیوقابض دي کومې رسنۍ چې ددې هیوادلپاره په سیاسي ،اقتصادي اوټولنیزوچاروکې پالیسي اوخط مشي ټاکي ؛ په دنیاکې ترټولولویه کمپنۍ اولوی شرکت والټ ډزنی(walt Disney) ده.ددې کمپنۍ ترټولو زیات پروډکشن هاؤس په امریکا کې دی.له دې کمپنۍ سره (۷) لوی نیوزپیپرس(اخبارونه) ،دړې میګزین اویولوی کیبل نیټ ورک دی،چې ټول مصرف یې(۱۴)میلیونوته رسیږي.دوهمه لویه کمپنۍ ټایم وارنر(time warner) ده چې هغه هم دامریکاله ګردونه لویه پي ټي وي کیبل نیټ ورک اوایچ بی په ملکیت کې لري .په امریکاکې دمیګزین اواخبار لویه اداره (time magazine) چې په امریکاکې ترګردوزیات شایع کیدونکی ده هغه هم دیهودیانوپه لاس کې ده.دریمه کمپنۍ وائی کام (wai com) ده،داشرکت دخلکوداذهانودخرابولو لپاره کارکوي اوهرکورته یې لاس رسی حاصل دی.څلورمه کمپنۍ نیوزکارپوریشن (news corporation) ده،چې دهغې ملکیت هم دیهودوپه لاس کې ده.

دیادونې وړدی چې په امریکاکې دورځې(٦) کروړه اخبارات خرڅیږي ،چې(۷۵) فیصده برخه پکې دیهودوده،دیوې لیکنې له مخې چې دامریکادې لوی

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

اخبارونـه(نیویارک ټـایمز(the new yark times) ،وال اسـټریټ جرنـل(wall street journal) او واشـنګټن پوسټ (Washington post) دیهودوپه ملکیت کې دي.له دې نه علاوه ټـایم میګـزین (time magazine) اونیوزویـک (week news)هم دیهودوپه واک کې دي.

باید دا ومنوچې دنړۍ په ګردو مشهورو رسنیو دیهودو قبضـه راغلـې ده، یهودیـانو پرلـه پسې هڅې کړي دي ،او د ابلاغ ذرایـع یـی خپـل ګرځـولي دي او دوی پخپـل دې هـدف کـې کامیابي ترلاسه کړې ده .ددوی هدف په نړیواله کچـه د رسـنیوله لارې شرخپـرول ،اوداسـلام ضدتبلیغات کول دي.

داخـبره هـم بایدپـه یـادولروچې نړیـوالې رسـني یـواځې پـه کفـري نـړۍ کـې داسـلام ضدفعالیت نه کوي ،بلکه زمونږپـه اسـلامي نـړۍ کې یی هم زیات کارکړی دی،هغه داسې چې پـه اسـلامي نـړۍ کـې فحـاشي خپـروي اوداسـلام دعملي،فکـري ،تهـذیبي اواخلاقـي اړخونونـه دمسلمانانوځوانانو دلرې کولولپاره غـربي میـډیا شپه اوورځ اخته ده اوپه دې لاره کې زیاتې هڅې کوي ترڅوچې دمسلمانانوځوان کهول له دین نـه نـاخبره پـاتې شي،اوپـه فحـاشي اوعیـاشي اختـه شي .

امریکازمونږپـه هیـوادکې هـم میلیونونـه ډالرپخپلـه تبلیغـاتي جګـړه کـې لګښـت کـړی اوتلویزوني اوراډیویی چینلونه یـی پـه لاراچـولي ترڅوله دې لارې دټولنې واک اودخلکوروحیه پـه لاس کـــې ونیسي ـــ اوپخپلـــه خوښـــه یـــی وڅرخوي.امریکـایی تورصـلیبي اسـتعماردومره بشردښمنه جنایتونـه کړیـدي،چې شـمیریی پـه زرګونوټنـــه کاغـــذهم احتـــواء کـــولی نـــه شي اوداخوددغه جنایت کوونکي ښکیلاکي طـاغوت دجنایتونویوڅوبیلګې دي ،چې پـه تیروڅـوارلس کلونـوکې یـی مرتکـب شـوی دی،چـې ماپـه لنډیزسره داسلامي امت دخبرتیالپاره بیان کـړی دی،څوهاغه بـې خـبره وګـړي اوملتونـه ورڅخـه خبرشي،چې همـدااوس هـم دامریکابشردښـمنه اواسلام دښمنه چلبازاومکارطـاغوت بشردوسـت اودانساني نړۍ غمخوراومرستیال ګڼي،په داسې حال کې چې دامریکاصلیبي استعمارپه حقیقـت کـې دانسـانیت لـه ګردوڅخـه لـوی دښـمن دی،اوبشریت دهلاکت کندې ته غورځوي.

په اسلامي امت باندې شرعاً فرض دي،چې د امریکـــایي استعماراودشـــیطان دګوندلـــه ګردوکفري ځواکمنوغړیوڅخه برابره خبره ده که هندوییزم وي،که کمونیزم،که بودائیزم وي ،کـه مجوسیت وي اوکـه نور....لـه یرغلونـو، ظلمونـو اومهلکاتو څخه دنجات په تکل کروړلي تدابیرپه کارواچوي اوله موجوده بـې تفـاوتې څخـه توبـه وباسي اودخپل دیني ذمه واړۍ احساس وکړي.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

موږ ال چا بايللی دی؟

حسن زوی

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دکابل لاسپوڅې اداري ته دامریکا له لورې ددوه بلیک هاک هلیکوپترو دتسلیمی لپاره ورمه ورځ په کندهار کې جوړو شویو مراسمو ته دکابل اداري مشر اشرف غني او دناټو او امریکایې ځواکونو لوی قوماندان جنرال نیکولسن حیرانونکې او دخندا وړ خبرې کړېدي.

جنرال نیکولسن وویل: ناټوپه افغانستان کې دبشریت ددښمنانوپرضد جنګېږي ؛ دافغان ځواکونو سره دبلیک هاک چورلکوشتون دښمن ته دهغوئ دځپلو او ماتي واضح پیغام دی؛افغان هوایې ځواک پیاوړی دی؛ دطالبانو دتلفاتو کچه لوړه شویده او موږال یې بایللی دی؛دوئ دې نور دبریالي کېدو خوبونه ،نه ویني؛خپلې وسلې دې په ځمکه کېږدي او نور دې افغان وژنه بس کړي؛کنه دافغانستان دهوایې ځواکو دبریدونو به خوندي نه شي.

همداراز اشرف غني هم خپله زړه خبره تکرار کړه او ویې ویل چې طالبان دافغان ځواکونو په مقابل کې بری نه شي مونډلی نو باید مذاکراتوته تیار شي اووسلې په ځمکه کېږدي.

دخپلو مادیاتو،مادي ځواک او موقت برلاسي پرلیدلو باټې وهل او دغرور او تکبر نه ډکې خبرې کول دایمان دستر نعمت نه دمحرومو خلکو زوړ عادت دی چې په تېرو ۱۶ کلونو کې بهرنو غاصبینو او لاسپوڅو مشرانو دخپل همدې عادت له مخې په داسې ټولو مواقعو کې تل همداسې باټې وهلي دي او دتکبر نه ډکې خبرې یې کړیدي نوځکه ددوئ اوسنئ څرګندونې دتعجب وړندي.

حیرانتیا پدې ده چې په څومره سپین سترګی نه یواځې دافغانانو نه بلکې دټولې نړۍ په سترګو کې خاورې اچولو جرأت کوي؟!

طالبان دافغانانو قاتلین او خپل ځان افغانانو ته نجات

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ورکـونکي او دښـمنانو پرضد جګړه کونکي ګڼي؟!

دا څـومره لـوی دروغ دي اود حقایقو دمسـخ کولـو څـومره سـتره ناکامه هڅه ده ؟!

امریکا دخپلـو متحـدینو پـه ملتیاپرافغانستان عسـکري یرغـل کړی او دیرغل په نتیجه کـې یـې دا هېـواد قبضـه کـړی چـې ددې قبضې ۱۶ کلونه تېر شـول ؛دیرغـل دپیـل نـه ترننـه کـوم غـر ، کومـه دښـته ،کـوم ښـار او کـوم کلـی امریکایـــان ښـــودلی شي چـــې وربانـدې یـې دخپلـو طیـارو نـه درانده بمونه نه وي راغورځـولي او په هر بمبار کې یې پـه ډېـرې بـې رحمـی دکوچنیـانو او مېرمنـو پـه شـمول ګـڼ شـمېرافغانان نـه وي وژلي؟

آیا همدوئ بې چاره افغانـان دښـریـت سـتر دښـمنان دي ؟ او همدا دښـریـت ددښـمنانو پرضـد جنګ دی ؟

کـــه دمظلمـــو افغانـــانو جوماتونـه، مدرسـې ، ښـوونځي، روغتونونه، جنازې ، وراګانې چـې په کراتو مراتـو امریکـایې او نـورو اشغالګرو بمبار کـړي او پـه ځینـو داسې پېښو کې یـې د ۱۰۰ نـه هـم زیـــات ولـــسي وګـــړي وژلي دادښـریـت ددښـمنانو وژل دي ؟ آیا دوئ دښـریت برخه یا افغانـان ندي؟حشـــرات الارض دي؟کـــه دافغانستان څه داسې اوسـېدونکي دي چې بایدانسانان نه بلکـې څـه بل څه ورته وویل شي؟

ټوله نړۍ وایې چې په ډرون بریدونو کې طالبـان کـم او ولسـي- وګړي زیات وژل کېـږي ؛ لا ۲۰۱۷ م کال پای ته ندی رسېدلی خـو دا اوس نـه نړیوالـو ادارو راپورونـه خپاره کړیدي او پکې یې ویلي دي چـې د۲۰۱۷ م روان کـال دعـامو کلونو په پرتله زیـاتو ولسي- وګـړو خپل ژونـد لـه لاسـه ورکـړی ؛په همـدې وروسـتیو ورځـو کـې پـه ننګرهـار،لوګر او هـرات کـې دامریکایې ځواکونـو لـه لـورې پـه ولسي وګـړو پـه تـرسره شـوي هـر بمبـار کـې پـه لسـګونو بـې ګنـاه افغانان په بـې رحمانـه ډول ووژل شول .

آیـا داهـم دښـریـت پرضـد جنګ دی ؟

آیا طالبان جیـټ؛هلیکوپټر یا ډرون طیارې لـري چـې دبمبـار لپاره یې وکاروي؟آیا طالبانو دخپل ولس سره دښمني ده او مبـارزه یـې ګینـې ددې لپـاره ده چـې خپـل خواخوږی ، همکاراو مسلمان ولـس ووژني؟

جـــنرال نیکولســـن وایـــې طالبـانو نـور مـورال بـایللی دی او دکامیـابۍ چـانس نـه لـري؛ددې ناکام جنرال دا خبره خویقیناً ددې وړ ده چـــې پـــرې ټولـــه نـــړۍ وخاندي؛طالبان لګیا دي په شمال جنـــوب او شرق کـــې غونـــډې ولسوالۍ او فراخـې سـیمې فتحـه کوي او دکابـل دادارې ګـڼ والیـان وایـې چـې ولایتونـه یـې دسـقوط دخطر سره مخامخ دي ؛ ټوله نـړۍ وایـــې چـــې دافغانســـتان پـــه ۵۰ فیصده خاورې دطالبانو واک دی.

نـو طالبـان چـې ستا،سـتا داتحادیـــانو او ســـتا دلاســـپوڅې اداري دټولو ځواکونو نه دخپلې ۵۰ فیصده خاورې په ازادولو تـوانېږي مـورال یـې غورځېـدلی کـه لـوړ شویدی؟

پخپله دامریکا نوی ولسمشر ټرمپ دطالبانو پرضد روان جنـګ ترټولو اوږد،دتاوانونو نه ډک او بـې ګټې جنګ بولي او دامریکا ددفـاع

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

وزیر ښه په وازه خوله وایي چې دافغانستان جګړه زموږ لپاره دګټلو نده.

دامریکا موړال غورځېدلي مشران دطالبانو په مقابل کې خپل شکست مني نو جنرال نیکولسن ! ته په کومه خوله وایي چې طالبانو خپل موړال له لاسه ورکړیدی؟

موړال چاله لاسه ورکړی ؟ تا اوستا فوځونو که طالبانو؟

ستا دافغانستان نه ستانه شوي ټول فوځیان رواني مریضان دي خوټوله نړۍ چې رایوځای شي داسلامي امارت یوداسې مجاهدهم نه شي په ګوته کولی چې ددښمن دوپړې او دمرګ اوزغم دخوف له امله دې په رواني مریضتیا اخته شوی وي نوددومره سترو طاقتونو په مقابل کې تر١٦ کلونو جنګېدونکو جنګیالو کې چې کوم یوتن هم څوک په رواني مرض اخته نه شي په ګوته کولی داسې جنګیالو ته موړال بایللي ویل څومره لوی دروغ دي ؟! نکولسن تاته پدې دروغو هیڅ شرم نه درځي ؟

په ٢٠٠١ م کې چې دامریکا په مشرۍ کې دانساني تاریخ ترټولو ستر عسکري اتحاد افغانستان قبضه کړ؛دنړۍ په تر ټولو عصري وسلو سمبال کابو ١٢٠ زره فوځیان دسونو طیارو سره یوځای افغانستان ته راغلل؛دطالبانو په بشپړ ډول دطالبانوتر واک لاندې یوه ولسوالي هم نه وه؛مالي هیڅ وسایل یې نه لرل نو ددې دومره ستر اتحاد په مقابل کې یې چې موړال ونه بایللو او نه ترې وه وپرېدل بلکې په ډېرو کوچنیو او عادي وسلو په ډېر لوړ عزم او عالي موړال دمقابلې ډګر ته راووتل او ددې ستر اتحاد په مقابل کې یې تر١٦ کلونو په کامل بریالیتوب جنګ جاري وساتلو نو اوس چې طالبانو نیم افغانستان فتحه کړیدی؛ددښمن داتحاد زیاتره غړي یې تښتې ته اړ ایستلي دي او داتحاد مشري کونکې امریکا ښه په وازه خوله دشکست اعترافونه کوي نو په داسې غوره او موافق حالت کې به ولې طالبان موړال بایلي او دخپل بریالیتوب نه به ناهیلي کېږي؟

دطالبانو جنګ دمادیاتو لپاره ندی؛نه په مادیاتو متکي دي او نه هم دسترو مادي وسایلو په مقابل کې داجنګ ودرېدونکی یا کمزوره کېدونکی دی؛دا جنګ هغه مقدس جنګ دی چې هدف یې دخپل دین؛ملک او ملت نه دفاع ده چې په ډېر بریالیتوب دا اهداف مخ په حاصلېدو دي؛دا جنګ چې دسونو طیارو په شتون کې وندرېدو او نه کمزوری شو اوس به ددوه طیارو په راتلو څه ودرېږي یا به کمزوری شي.

دطالبانو جنګ ددېرو عالي اهدافو لپاره دی نو ځکه یې ترشاولس ولاړ دی؛پرې کامل اعتماد کوي ؛حمایت یې کوي او په خپلو کورونو کې ځایونه ورکوي او خپل ځانونه دلوي خطر سره مخامخ کوي.

داجنګ به ترهغې همداسې په لوړ موړال روان وي ترڅو چې دښمن تښتې ته اړ شوی او ملت مو ددوئ دعظیمو شرونو نه خوندي شوی نه وي.

ان شاءالله تعالی

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

اشغالګر

د خپل تاريخي شکست پټولو په لټه کې دی!!

خليل عزيز

امريکايان په افغانستان کې دخپل ۱۷ کلن تاريخي شکست اوشرمندګي دتوجيه لپاره لدې پرته چې دګاونډي هيوادپاکستان مداخله تبليغ اواذهان پرې مختل کړي بل هيڅ کوم چانس اوپلمه په لاس کې نلري.

له همدې امله دټرامپ نوي ستراتيژۍ چې ټوله په درواغو، سرتمبګی اوتشوپلمو عياره شوي يومهم ټکی اوبرنامه يې داده ترڅو پاکستان دافغانستان په مسائيلو دخيل اودروان برميال جهاداوتاريخي مقاومت نسبت له افغانانوپرته بل چاته وکړي .

حقيقت دادی چې پاکستان دهغه امريکايی ايتلاف غړی و اودی چې دافغانستان داشغالولو لپاره امريکايانو جوړ کړی و اوله شک پرته چې دنورو ګاونډيو هيوادونو په څير پاکستان هم دافغانانو دخپلواکی په مبارزه کې افغانان يواځي پرېښول او دامريکايانو مرسته يې وکړه.

خو دالله تعالی په نصرت دافغانستان داسلامي امارت ترمشري لاندي جهادي مقاومت په خپلو متو وکولای شول چې دامريکايی يرغل اوستم په مقابل کې کلک ودريږي او د هيواد نيمايي برخه خاوره ترخپل مستقيم تسلط اوواک لاندي وساتي.

امريکايانو دنړی د ۴۹ هيوادونو په ائتلاف سربيره خپل يونيم لک مجهز اوپرمختللی پوځ دافغانانو په مقابل کې استعمال کړ،دوه تريليون ډالره يې ولګول اوله بوش نيولي تراوباما اوټرامپ پوري هريوه خپلې ناترسه ستراتيژۍ دلته کارولي

خوله دغه اوږده جبراووحشت اوپراخ ځاني اومالي زيان سربيره چې بياهم امريکايانو په افغانستان مطلق شکست وخوړاوپه هرميدان کې ناکام اومايوسه شول نودهغودپټولولپاره دوئ مجبورول اودي چې يوه داسې پلمه اوبهانه

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ولټوي چې لدې وړاندې روسانو او کمونيستانو هم کارولي وه.

امريکايان اومزدوران يې تبليغ کوي چې پاکستان طالب مشرانوته په خپله خاوره کې ځای اوپناه ورکړي .

ترکومه ځايه چې دطالب مشرانوپه پاکستان کې داستوګني موضوع ده اصلي خبره داده چې پاکستان دلکونوافغان مهاجرينو استوګن ځای دی اوله تيرودری نيمو لسيزوراهيسي هلته افغانان ميشته دی ممکن په دغو مهاجرينو کې دطالبانو يوشميرکورنی هم وی خوداپه دې معنا نده چې پاکستان دې هغوئ له الفه تر ی پيژندلي وي او دروسانو پرخلاف دافغان جهاد په ځيردې طالبان هلته ته سياسي اوپوځي مراکز ولري ، روزنه اوپالنه دې ورکول کيږي

طالبان چې په نيمايي افغانستان خپله ولکه چلوي اودامريکا دسترطاغوت مقابله کوي سوق اواداره يې له پاکستان اوبل کوم ګاونډي هيواد څخه هيڅکله ممکنه نده ، طالبان منظم تشکيلات لري دهرې سيمې ، ولسوالی اوولايت لپاره مسؤلين اوقومندانان لري هغوئ دخپل مکلفيت له مخې اړدي چې اوږه پراوږه له خپلو مجاهدينو سره ووسي او شپه ورځ ورسره موجودوي.

مونږ امريکايانو او مزدورانو ته يې وايو په دغوپلمو اوبهانو باوروکړی چې نه به روان جهادتـــه دالله پاک په نصرت کومه صدمه ورسوی اونه به له افغانانو اونړئ څخه خپل تاريخي شکست پټ کړای شي.

غوره خبره داده چې په واز کومي ووايي چې په افغانستان کې موماته خوړلي ، جنګي ماشين موناکاره شوی دی اودطالب دمقابلي توان نور نلرو

اوداخبره هم واوری چې اسلامي امارت ستاسو له هرډول جنګي اوشيطاني حربوڅخه پوره اګاهي لري که لدي ورسته په دې سوچ اوفکر کې يی چې دمجاهدينوحوصلي به يې په دغوخيالي نقشو، اوپوچوتبليغاتوکمزوري کړی اوګټل شوي سنګرونه به ترينه ونيسي نوسخت تيروتلي اوبنوئيدلي ياست اودا به ستاسي دحماقت او جهالت پای اوانتها وي .

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

طالبان

... تر يرغل ١٦ کاله وروسته

شاهد (غزنيوال)

له نن ١٦ کاله وړاندې چې کله د امريکا د وخت واکمن جورج ډبليو بوش پر افغانستان يرغل کاوه نو ټولې نړۍ ته يې دا کړنه را کاږله چې:

))يا به زمونږ د دښمن ځپلو لپاره زمونږ ترڅنګ دريږئ او يا به زمونږ په مقابل کې زمونږ له دښمن سره دريږئ((!

سبحان الله ! نن د مغرور بوش له هغه متکبرانه تهديد څخه پوره ١٦ کاله تيريږي.

يرغلګر بوش د خپلو ټولو صليبي ايتلافيانو په ملتيا پر جګړه ځپلې افغانستان برید وکړ، امريکايانو او ايتلافيانو يې خپل ټول پوځي او اقتصادي زور وازمايه ، خپلې ټولې پرمختللې وسلې يې تجربه کړې ، د نړۍ ناټو په ځير د ځواکمن نړيوال پوځي ټرون نظامي جنرالان يې استخدام کړل ، تقريبا دري ټريليونه ډالر يې ولګول، خواشاو ۴۰۰۰ روزلې او مجهز پوځيان يې تلف کړل ، په لسګونو زره نور يې ژوبل او په لکونو نور يې ليوني شول ، خو نتيجه يې دا شوه چې هغه فرعوني غرور يې داسې تر پښو لاندې شو چې له دې ټولو مادي او بشري تلفاتو سره سره وروسته وايي چې مونږ په افغانستان کې له نه ماتيدونکي دښمن سره مخ يو.

برعلاوه په دې چې امريکايانو په خپل ټول پوځي او اقتصادي طاقت سره په افغانستان کې جهادي مقاومت ته ماتې ور نکړای شوه ، طاغوتي وجاهت او غرور يې دومره تر پښو لاندې شو چې اوس نور چاته د تهديد ورکولو توان نه لري ، بلکې هغو هيوادونو ته چې دوي ورباندې له مقاومت سره د ارتباط او مرستې شک لري نصيحت او زاړی کوي چې په اصطلاح د تروريستانو له ملګرتيا لاس واخلي.

هغه طالبان چې د امريکايي يرغل په مهال د بوش لخوا په حتمي نابودي محکوم وو ، نن خپله د امريکايانو په اعتراف د نړۍ مقتدر هيوادونه په تيره د امنيت شورا دائمي غړي ورسره ديپلوماتيک علائق لري.

هغه طالبان چې مغرور بوش يې د جهادي مسؤلينو پر سرپه ميلينونو ډالره جائزې تعين کړې وي ، نن خپله امريکايان هغوی ته د سياسي مذاکراتو وړانديزونه کوي.

هغه طالبان چې امريکايانو يې د بي ۵۲ الوتکو په مټ له افغانستان څخه د نابودي پريکړه کړې وه ، نن خپله د امريکايانو په اعتراف هغوي پر نيم افغانستان واکمني کوي.

او بالاخره هغه طالبان چې امريکايانو يې د مجازات لپاره د ګونتنامو غوندي وحشيانه زندانونه جوړ کړي وو نن هغوي توانيږي چې امريکايان د دوي له پوځي اډو او په کابل کې د امريکايي سفارت له دروازې څخه ژوندي ګرفتار او په طالبي زندانونو کې اسير وساتي.

د امريکا په مشري د نړيوال طاغوتي ځواک په مقابل کې د طالبانو په مشري د افغانستان د جهادي مقاومت اوسنی پوځي، سياسي او اداري برلاسی وضعيت له دې پرته چې د الله تعالی د دې معجز ارشاد واقعي او عملي مصداق وبلل شي بله هيڅ توجيه نه لري.

ولا تهنوا ولاتحزنوا و انتم الاعلون ان کنتم مؤمنين.

ژباړه : تاسو مه خپل ځان کم بولي او مه هم خپه کيږئ، تاسو ډيرلوړ) برلاسي (ياستئ په دې شرط چې تاسو مؤمنان)د الله په نصرت (باور کوونکي ياستی.(

د ويارلي جهادي مقاومت بريالي سنګرونه دي لا تاوده او د يرغلګرو مخ دي تور وي.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دا اسلام غزوات او سرايا

دحديبې عمره او درضوان بيعت

ابوظـهير

حليس په غوسه شو پورته شو وې ويل:

قريشو! په خداى سوګند مور تاسو سره دا عهد او وعده نده کړې چې کوم سړى دبيت الله زيارت ته راځـي هغـه بـه بنـده ولـى شي !سوګند په هغه ذات دچا په قبضه کې چې دحليس ساه ده که محمد(ﷺ) تاسو دبيت الله زيارت کولو څخه منع کړئ زه بـه ټولـو حبشـو سره يوځـاى لـه تاسونه جلاشم

قريشو هغه ته ويل:ته کينه! خفه کېره مه، مونږ لږ غور کوو.

بيا دخلکو له منځه مکـرز بـن حفـص پورتـه شـو هغـه ويـل: زه رسول الله ﷺ تـه ورځـم او بيا راځم

رسول الله ﷺ چې ليدل مکر ز بن حفص ورځي، وې فرمايـل: دابـد سړى دى، ، حديبـه کې دقيام پـر مهال يـو ځـل مکـرز پنځوس کسان له ځان سره کړل او دشـپې يـې پـت پـه رسـول الله ﷺ دحملـې اراده وکـړه ، صـحابه وو هغـه ونيـو خـو مکـرز وتښتيده رسـول الله ﷺ هغه واقعې ته اشاره وکړه

مکـرز بـن فهـر درسـول الله ﷺ سره خـبرې کـولې چې دې کـې دقريشو لخوا سـهل بـن عمـر و دصـلحې لپـاره راغـى ، درسول الله ﷺ نظر چې په سهيل ولګيد، صحابه وو ته يـې وفرمايل: قَد سَهَل لَكُم مِن اَمرِكُم

ژ: بيشـکه يوځـه ستاسـو معامله اسانه شوه

يعنـې مـخ اسـان نشـو؛ ځـه ناځـه اسـان شـو داد تبعضيه [مـن] ترجمه ده، کوم چې پـه [قـد سـهل لكم من امركم] کې دى، ځګـه چې رسول الله ﷺ تـه نيـک فال نيول خوښ و ، په دې وجه يې دسهيل په و رتګ يـې نيـک فـال او نيو او داسانتيا بـاره کـې يـې هغـه د نيـک پـال پـه توګـه يـادکړ، سـهيل چون دسهل تصغير دى کـوم چې په تقليل دلالت کوي، او ددې لپاره يې په کې تبعضيه [مـن] راوړو ځـو اصلي ماخذ او نيـک فـال دواړه سره په دلالـتِ تقليـل کـې مشـترک شي (زرقاني ۲ټوک ۱۹۴مخ)

بيا يې و فرمايل:

قريش صلحه کولـو تـه مايـل شول، همدا سړى يې صـلحې تـه را لېږلى

سـهيل راغـى درسـول الله ﷺ خـدمت کـې حـاضر شـو ، هغـه تردېـره درسـول الله ﷺ سره پـه صـلحه او دصـلحې پـه شرايطـو يـې خـبرې کولې،ځـه مهـال چـې شرائـط طـى شـول ر سـول الله ﷺ

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

علی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تـه دمعاهـدې لیکلـو حکم وکړ

دعربو کې پخوانی دود و چې هغوی به دلیک په سرکې [باسمِک اللّٰهُمّ] لیکل، پخواني دودته په کتو سهیل ویـل: زه [بسم الله الـرحمان الرحیم] نـه پیـژنم؛ لـه پخـواني دود سره باسمک... ولیکه!

رســـــول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: نبه ده همدا ولیکه! بیا یې وفرمایل: ولیکه:

هَـذا ماقاضـی عَلَیـه محمـد رسول الله

ژ: داهغـه عهدپانـه ده ، چـې دالله تعـــالی رســـول محمـــد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وربانـــدې صـــلحه وکړه.

سهیل ویل:

که ته مورِ دالله رسول ګـڼلي بیا موهیڅکله ته دبیت الله څخه نه ګرځـولي او نـه مـو در سره جنګونـه کول ، دمحمـد رسـول الله پـه ځـای محمد بن عبد الله ولیکه.

رســـــول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایـل: پـه الله تعـالی سـوګند زه دالله تعالی رسـول یـم اګرکـه تاسـو مـې تکـذیب کـوئ ، حضرت عـلي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تـه یـې وفرمایـل: دالفـاظ ړنـګ کـړه او دهغـه دخـواهش سره سم یواځي زما نـوم ولیکـه حضرت عـلي کـرم الله وجهـه عـرض وکـړ: دالله رسوله! زه هیڅکله ستا نوم نه ړنګـوم! رسـول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل هغـه ځـای ماتـه را پـه ګوته کړه چې پکې تـا درسـول الله لفظ لیکلی.

عـلي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پـه هغـه ځـای ګوتـــه کیښـــوده، رســـول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپـــل لاس تـــري هغه لفظ ړنـګ کـړ او عـلي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تـه یـې دمحمـد بـن عبـد الله لیکلـو حکم وکړ.

پـــه ځینـــو روایتونـــو کـــې د[فکتب رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ] لفظ راغلی، خو دا په مجازي اسناد محمـول دی یعنـي [امـر بالکتابـة] دلیکلو حکم یـې ورتـه وکـړ، څنګـه چې په [کتب الی قیصر- وکسری] کـې مجـازي اسـناد دی، ځکـه چـې دقراني نصوصو او متـواتره احـادیثو نـــه درســـول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [اُمـی] والـی نښـکاره دی او پـه دې واقعه کـې دحضـرت عـلي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پـه لا س دصـلحې پانـه لیکـل لـه مشهورو احادیثو نه ثابت دي او پـه دې اړه یو شاعر ویلي: بَرِ ئتَ مِمن شَرَی دُنیَا بآخرة وقَال اِنّ رسولَ الله قَد کَتبا. [زرقاني ۲ټوک ۱۹۷مخ]

دصـلحې شرائـط پـه لانـدې ډول وو :

۱-ترلسو کالو پورې بـه جنـګ بندیز وي

۲- که دقریشونه کـوم تـن د خپـل ولي داجـازې پرتـه مـدینې تـه درغی، هغه به بیرته مکې ته رالیږل کېږي اګرکه هغه مسلمان شوی هم وي

۳- او که کوم تن دمـدینې نـه مکې ته راځي هغه به بیرته نه لیږل کېږي.

۴- په یاده موده کـې بـه دواړه لوري دیوبـل پرضـد تـوره نـه پورتـه کوي او نه بـه لـه یوبـل سره خیانـت کوي.

۵- محمد(صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) بـه سـرکال دعمـرې کولـو پرتـه بیرتـه مدینې ته درومي او مکـې تـه بـه نـه ننوځي او راتلونکی کال بـه یـواځي د درې ورځو لپاره په مکه کې دعمرې لپاره تم کېږي اوبیا به بیرته ځـي او دتورو پرته نورې وسلې به لـه ځـانو سره نه راوړي اوهغه (تورې) به هم په تیکو یاغلافو کې پټې وي.

٦- ائـــتلافي قبایـــل ازاد دي کـولی شي چـې دکـوم لـوري سره غواړي په معاهده او صلحه کې دې ګډون و کړي

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

نو په دې توګه بنو خزاعه درســـول الله ﷺ سره معاهد شول او بنو بکر دقریش سره ملـه شول بنو خزاعه درسول الله ﷺ سره حلیـــف او بنوبکر دقریش حلیفان شول

دصلحې په اړه لیک پاڼه لیکل کېده چې دې کې دسهیل ځوی ابوجندل رضی الله عنه په داسې حال کې درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو چې دهغه په پښو کې یې زولنې وې، نوموړی ددینه وړاندې په اسلام مشرف شوی واو دمکې کافرانو ور ته ډول ډول اذیتونه ورکول، سهیل وویل: دابـــه لـــومړی ســـړی وې چـــې دعهدنامې له مخې به بیرته رالیږل کېږي

رســـــول الله ﷺ وفرمایل: تراوسه خو صلحه نامه نـــده پـــوره ،دلیکلـــو او لاســـلیک وروسته بـه وروانـدې عمل شروع کېږي

رسول الله ﷺ بیا بیـــا ســـهیل تـــه ویـــل: ابوجنـــدل رضی الله عنه مورِ ته وسپارئ

خـو سـهیل اونـه منلـه بـالاخر ابوجندل یې سهیل ته وسپاره

داچې ابوجنـدل تـه دمکـي مشرکانو تـــه ډول ډول اذیتونـــه او تکلیفونـــه رســـولي وو ، هغـــه مسلمانانو ته دحسرت او مظلومیت په نم جنو سترګو اوکتل او وې ویل: افســـوس! اې مســـلمانانو تاســـو ماکافرانوته سپارئ

رســـــول الله ﷺ ددې په اوریدو ابو جندل تـه تسلي ورکړه او ورته وې فرمایل:

یَا اَبَا جَندَل اِصبِر واحتَسِب فَاِنّا لَا نَغدِرو اِنّ الله جَاعِلٌ لَکَ فَرجاً وَمَخرَجاً

ژ: اې ابوجندلـــه صـــبرکوه او دالله نـه امید لـره مورِ دوعـدې نـه سرغړونه نـه خوښـوو اویقـین وکړه الله تعـالی بـه نیـږدې سـتا دنجـات لپاره کوم صورت را وباسي.

خـو عـامو مسـلمانانو دهغـه بیرتـه لیـږل ډیـر درونـد اوځورونکی منظـرو ،حضـرت عمـر رضی الله عنه راغی عرض یې وکړ یا رسول الله ! ایا ته برحق نبي نه یـي؟ رسول الله ﷺ وویـــــل: ولـــــې نه!حضرت عمر رضی الله عنه وویل: ایـا مورِ پـه حـق او دوی پـه باطلـه نـه دي؟رســـــول الله ﷺ وویـــل: بیشـکه، حضـرت عمـر رضی الله عنه وویل:نوبیـا دا ذلـت ولـې زغمـو؟ رسـول الله ﷺ وفرمایل:

زه دالله رسـول او برحـق نبـي یم، دهغه لـه حکـم سرغړونـه نشـم کـــولی او هغـــه زمـــا ملګـــری او مرستندویه دی

حضرت عمـر رضی الله عنه وویـل: یا رسـول الله ایـا تـا نـه و فرمـایلي: چې مورِ به دبیت الله طـواف کـوو ؟ رسـول الله ﷺ وفرمایـل: دا مـا کلـه ویـلي چـې سـږ کـال بـه طواف کوو

ددې وروســـته حضـــرت عمـــر رضی الله عنه ابـــوبکر صـــدیق رضی الله عنه ته ورغـی او هغـه سره یـې هـم پورتـه خـبرې وکـړې ابـوبکر صدیق رضی الله عنه ورته بعینه لفظ پـه لفظ هم هغه ځوابونه وویل کوم چې د رسول الله ﷺ دمبارکې ژبې وتلي وو

حضرـــت عمـــر رضی الله عنه وروسته پخپله کړې تیزې پښـیمان شـواو پـه کفـاره کـې یـې زیـات لمونځونـه وکـړل روژې یـې ونیـوې؛ صدقې او خیراتونه یې ورکړل او ګڼ غلامان یې ازاد کړل

ګفتګـو عاشـقان درکـار رب جوشش عشقت نی ترک ادب

په صحیح مسلم شریـف کـې دحضرـت انـس رضی الله عنه څخـه روایـت دی چـې صـحابه وو عـرض وکړ:

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

یـا رسـول الله ﷺ په دې شرط څنګه صلحه کـوو چـې زمونږ څخـه څـوک هغـوی تـه ورشي هغه به بيرته نه راليږي...

رســـــول الله ﷺ وفرمايل:

هو! زمونږ څخـه کـوم سړی چـې هغـوی سره يوځـای شي مـونږ هغـه تـه ضرورت نلـرو، هغـه الله تعالی دخپل رحمت نـه لـري کړ، او پـه دوی کـې چـې کـوم شـخص مسلمان شي او زمـونږ خواتـه راځـي اګرکه دشوې ژمنې له مخې به بيرته ليږل کېږي خـو د ډاريـدو ضرورت نشـته ژربـه الله تعـالی دهغـوی دنجات لپاره کوم صورت پيدا کړي ، بله داچـې پـه دې سربيـره داسـې صورت چې دمدينې نـه يـو مسلمان تـن مکـې تـه تښـتيدلی وي نـدی پيښ شوی

غـرض داچـې د پورتـه يـادو شرايطو په ليکلو سره صلحه نامه بشـپړه شـوه او دواړو خـواوو نـه لاسليک شوه

دمسلمانانو له لوري ابـوبکربن ابي قحافـه، عمـربن الخطـاب، عـثمان بـن عفـان، علـی ابـن ابي طالب (دعهـدنامې ليکـونکی) عبـد الـرحمان بـن عـوف، سـعد ابـن ابي وقـاص، ابوعبيـدة بـن الجـراح او محمـد بـن مسـلمه رضي الله عنهم لاسليکونه وکړل او دمکې دمشرکانو له لوري هم ګڼو کسانو لاسليکونه وکـړل چـې منجملـه دهغوينـه حويطب بن عبد العزی، اومکـرز بـن حفص لاسليک کړه دلوظنامې يـوه نسـخه درسـول الله ﷺ سره او بلـه دسـهيل بـن عمـرو سره وه (طبقات ابن سعد ۲ټوک ۷۱مخ)

دصـلحې بشـپړيدو وروسـته رسـول الله ﷺ صـحابه وو تـه دقربـاني او دسرونـو خريولـو حکم وکړ ،داچـې صحابه د صلحې شرائطـو لـه املـه زيـات خفـه او مغمـــــوم ول،درســـــول الله ﷺ لخـــــوا د دې واړه حکم کولو باوجود يوتن هم لـه خپـل ځايه پورته نشو.

کلـــه چـــې رســـول الله ﷺ دامنظـر وليـد نـو اُم سـلمة رضـی الله تعـالی عنهـا تـه ورغی او هغې تـه يـې دشکايت پـه توګه واقعه تيره کړه! اُم المؤمنين اُم سلمة رضی الله تعالی عنها عـرض وکړ :

يـار سـول الله ﷺ داصـلحه پـه مسـلمانانو ډېـره درنـه تمامه شوې، پـه دې وجـه دهغـوی زړونه مات دي اوستا دارشاد تعميل يې ندی کړی،تـه چاتـه د څّه ويلو پرته خپله قربـاني وکـړه اوهـم خپـل سرلنډ کړه! دوی به خپله ستا اتباع وکړي

هـم داسـې يـې وکـړل رسـول الله ﷺ قربـانې وکـړه هغوی هم قربانياني وکړي

الله تعـالی دي دمومنـانو مـور اُم سلمة رضـی الله تعـالی عنهـا تـه دخير عوض ورکـړي ،چـې صـائبباو پرځـای رايـې پهبرکـت يـې يـاده سـتونزه حـل شـوه او درسـول الله ﷺ دذهـن څخـه يـې پريشانې هغسي لـري کړه څنګه د شـعيب عليـه السـلام تـه دموسـی عليـه السـلام پـه بـاره کېـدخپلې لورمشـوره صـحيح او صـايبه وه همداسـې د اُم المـؤمنين اُم سـلمة رضی الله تعالی عنها پورتـه مشوره هـم پـوره صـائبه،پرځای او دخيـرو برکت ډکه وه

داټول واقعات دبخاري او فتح الباري نه اخستل شـوي چـې ښـه مستند او معتـبر دي دتفصـيل لپاره دفـتح البـاري کتـاب الشـروط تـه (د۲۴۵نه تر ۵۵۶) مراجعت کيدای شي

همـدا راز دلـړو زيـاتونو سره دزرقاني پـه شرح مواهـب کـې هـم شته خو دهغه ترتيـب دفـتح الباري دترتيب نه مغاير دی نوربيا ...

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

جنګي جنایتونه (سپتمبر)

سید سعید

د روان (۲۰۱۷) کال د سپتمبر د میاشتي په ۵مه نیټه د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ مرکز ته څیرمه د همدي ولسوالۍ د امنیه قومندان باچا پولیسو یوتن پخوانی جهادی مشر (ملاعبد الغفوراخند) شهید کړی دی.

د سپتمبر په ٦مه د ارزګان ولایت دچوري ولسوالۍ په مربوطاتو کې د یرغلګرو په بمبار کې اووه تنه ملکي هیوادوال شهیدان او ګڼ کورونه ویجاړ شوي دي.

د سپتمبر په ٦مه دفراه ولایت دفراه رود ولسوالۍ په بازارکې لاري ساتونکو پولیسو دهرات - کندهار پرلویه لاره په مسافروړونکي ۳۰۴ موټر ډزي کړي، په ډزو کې درې تنه مسافر ژوبل شوي او یو تن شهید شوی دی.

د سپتمبر په ۷مه د جوزجان ولایت د قوشتیپې ولسوالۍ په شیربیک کلي کې د اربکیانو په برید کې یوه نجلۍ شهیده شوې او دوه ماشومان ژوبل شوي دي.

د سپتمبر په ۷مه دارزګان ولایت د خاص ارزګان ولسوالۍ په قلعه خور سیمه کې دیرغلګرو په ډرون بریدکې یو ملکي سړی شهید او یو بل تن ټپي شوی دی.

د سپتمبر په ۹مه د ننګرهار ولایت د لعلپوري ولسوالۍ په بیلي سیمه کې اشغالګرو د د اخلي عسکرو په ملتیا دچاپې په مهال پنځه تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي او درې تنه یې بندیان کړ ي دي.

د سپتمبر په ۱۱مه د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ په شیرسیمه کې اربکیانو دوه تنه طالب العلمان شهیدان کړي او یو تن یې ټپي کړی دی.

د سپتمبر په ۱۳مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ د وزیرو دابوبکر په سیمه کې اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتیا دچاپې په مهال د کورونو دروازې په بمونو الوزولي، کورونه یې تالاشي کړي، خلک یې وهلي، شتمنۍ یې ورځخه وړې او څلور تنه ملکي وګړي یې بندیان کړي دي.

د سپتمبر په ۱۳مه د بلخ اوسېدونکو او مدني فعالانو رسنیو ته ویلي چې د دولتي ځواکونو له لوري دعملیاتو په نامه دخلګو کورونه لوټیږي، خلګ وهل کیږي ، قادر مصباح چې په بلخ کې دخط نو بنیاد مشر دی ازادۍ راډیو ته ویلي: «د ولسي پاڅونوالو په نوم وسله وال غلاوې کوي،

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

لارې شکوي،خلګ ځوروي او له کورونو يې قيمتي توکي وړي.«

د سپټمبر په ۱۳مه دبادغيس ولايت ددره بوم ولسوالۍ مرکزته څيرمه ددا خلي عسکرو په ډزو کې يو ملکي وګړی شهيد او بل ژوبل شوی دی.

د سپټمبر په۱مه د ننګرهار ولايت د شيرزادو ولسوالۍ د طوطو په سنګرخيلو سيمه کې اشغالګرو ددا خلي کمانډو عسکرو په ملتيا د ملکي خلکو په کورونو د چاپې په مهال د کورونو درواز ې ماتي کړې، کورونه يې تالاشي کړي، خلک يې وهلي او په پای کې يې يوتنکی ماشوم او يو تن سپين ږيری په شهادت رسولي او څلورتنه کليوال يې له ځان سره د بنديانو په توګه وړي دي.

د سپټمبر په ۱۴مه د ننګرهار ولايت د لعلپوري ولسوالۍ په ګرداوي سيمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال اووه تنه ملکي وګړي بنديان کړي دي.

د سپټمبر په ۱٦مه د پکتيا ولايت د زرمت ولسوالۍ په اوريا خېلو سيمه کې اربکيانو دغايې ښوونځي ښوونکی (معلم جان محمد) شهيد کړی او دنوموړي دوه زامن يې ټپيان کړي دي.

د سپټمبر په ۱۵مه رسنيو خبر ورکړ چې: دبغلان ولايت د برکې ولسوالۍ په مرکز کې داخلي عسکرو دمولوي کمال الدين ديني مدرسه کې سنګر نيولی او د مدرسې ديوالونه يې سوري کړي او زيات زيان يې ورته اړولی دی.همداراز د نوموړي ولسوالۍ مرکزي ليسه او د دغي ولسوالۍ اړوند فلول سيمه کې يو باب متوسطه ښوونځی هم داخلي عسکروله تيرو ځلورو مياشتو راهيسي د زده کونکو په مخ تړلي او قرارګاوي يې په کې جوړي کړي دي.

د سپټمبر په ۱۷مه دارزګان ولايت دخاص ارزګان ولسوالۍ دشيخي اونيکروز په سيموکې د يرغلګرو په بمبار کې شپږ تنه ملکي هيوادوال شهيدان شوي،د کورونو د ويجاړۍ تر څنګ مواشي هم له منځه تللي دي.

د سپټمبر په ۱۷مه د غزني ولايت ده يک ولسوالۍ په بالای سيمه کې داخلي عسکرو يو ديني عالم(عبدالهادي اخندزاده) شهيد کړی او يو زوی او ميرمن يې ور ټپيان کړي دي.

د سپټمبر په ۱۸مه دکندهار ولايت د خاکريز ولسوالۍ دلالک اوزرک په سيموکې اشغالګرو ددا خلي کمانډو عسکرو په مرسته چاپه وهلې،د کورونو دروازې ماتې کړې،خلګ يې وهلي،نهه تنه ولسي ــ وګړي يې بنديان کړي،درې ماشومان،څلور سپين ږيري او دوولس تنه ځوانان يې د کورونو په منځ کې شهيدان کړي. پر ځاني زيان سربيره يې خلګو ته پراخ مالي تاوان هم رسولی دی.

د سپټمبر په ۱۹مه د بادغيس ولايت دقادس ولسوالۍ دخم جنګل په سيمه کې دحکومتي الوتکو په بمار کې يو سړی شهيد شوی او يو بل تن زخمي شوی دی.

د سپټمبر په ۱۹مه د بادغيس ولايت د قادس ولسوالۍ دلالا بای په سيمه کې داشغالګرو په هوايې بريد کې درې تنه ولسي وګړي شهيدان او درې نور ژوبل شوي دي.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د سپټمبر په ۱۹مه دفاریاب ولایت دقیصار ولسوالۍ د جورلوغ په سیمه کې اربکیانو یوتن ملکي وګړی (انور) له خپلو دوو کوچنیو ماشومانوسره شهید کړی دی.

د سپټمبر په ۲۰مه د غزني ولایت مرکز اړوند په شالیز سیمه کې د داخلي عسکرو د توپچي په بریدونو کې در ې تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په ۲۱مه د غزني ولایت ناوې ولسوالۍ په صالح ګل کلي د یرغلګرو په بمبار کې دوه ماشومان شهیدان، یوه ښځه او ماشوم ټپیان شوي دي.

د سپټمبر په ۲۲مه دننګرهار ولایت دبټي کوټ ولسوالۍ دامبار خانه په سیمه کې اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتیادچاپې په مهال دکورونو دروازې په بمونو الوزولي، کورونه یې تلاشي اوقیمتي توکي یې ترې وړي، دوه تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي او۹ تنه نور یې بندیان کړي دي.

د سپټمبر په ۲۳مه دغزني ولایت دده یک ولسوالۍ درامک په سیمه کې اربکیانو یوتن کلیوال محمداسحاق دحمیدالله زوی شهید کړی دی.

د سپټمبر په ۲۳مه دفاریاب ولایت ولایت دالمار ولسوالۍ د مرشکار په سیمه کې د اربکیانو له لوري دهاوان په برید کې دوه ماشومان شهیدان او دوه تنه ژوبل شوي دي.

د سپټمبر په ۲۴مه دننګرهار ولایت دسرخرود ولسوالۍ د کنکرک په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال درې تنه کلیوال شهیدان کړي او دښځو اوماشومانو په ګډون یې درې تنه ټپیان کړي دي.

د سپټمبر په ۲۵مه دکندهار ولایت دبولدک ولسوالۍ په بیسي او ونکي سیموکې داخلي کمانډویي عسکرو دعملیاتو په مهال لومړی له سیمې څخه دوه سوه کورنۍ کډه کولوته مجبوري کړي او وروسته یې دیرش کورونه ویجاړ کړی اوسوځولي ،ګڼ شمېرباغونه او ونې یې له بیخه ایستلې دي.

د سپټمبر په ۲۵مه د کندز ولایت د قلعه زال ولسوالۍ په میانکول سیمه کې اربکیانو یوتن سپین ږیری (رحمت الله اکا) شهید کړی دی.

د سپټمبر په ۲۶مه دفاریاب ولایت دخیبر ولسوالۍ دچوبکي په سیمه کې د حکومتي قواوو په هوایې حمله کې یو ملکي وګړی شهید شوی او درې تنه ټپیان شوي دي.

د سپټمبر په ۲۷مه د بادغیس ولایت ددره بوم ولسوالۍ بازارته څیرمه د داخلي عسکرو دهاوان په بریدکې د ځایې مدرسې دوه تنه طالب العلمان شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په ۲۸مه د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالۍ په شاتورو سیمه کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوې میرمنې شهیداني شوې او یوه ټپي شوې ده.

د سپټمبر په ۲۸مه دتخار ولایت د درقد ولسوالۍ په القناق او دروازه پته سیمو کې دحکومتي الوتکو په بمبار کې څلور تنه بزګران ټپیان شوي دي.

د سپټمبر په ۳۰مه دفاریاب ولایت دچهلګزي ولسوالۍ د دوآبي په سیمه کې دځایې عسکرو دهاوان په برید کې یو ملکي وګړی(سیدوخان)شهید او زوی یې (شیرین ګل) زخمي شوی دی.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبریال ویپانه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا[=

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

غزل

شفاعت ریحان

وامعتصماه

حسینی

یوه خورکی رانه په چیغو کې ځواب غواړي
دمستور پت دخرڅبدو رانه حساب غواړي

ټوک ټوک بدن دیوې معصومې کړې نعرې راپسې
څنګه دې زړه زما دحال د لیدو تاب غواړي

نن بشریت او اسلامیت دواړه وژلی وو چا
ناتوان ضمیرمې دکفري نړۍ کباب غواړي

کلی اوکورمې نړیدلی خدایه څه وکړمه
مسجد قیامت رانه نن بیادرنګ محراب غواړي

دښاروګړي لمبېدل که دسرو وینو حوض کې
یو ورځ به غرب هم خپلو وینوته دریاب غواړي

څوبه یې لمانځې حسیني دټرمو اوښکو په بار
دتاریخ کرښو کې داورځ یوزرین باب غواړي

سم یې ایستلی وي له کاره سړی
په غم نو څه وکړي باداره سړی ؟

چې نه د دین نه د وطن په درد شي
ژوندون کوي د څه لپاره سړی ؟

دومره دې وژړوي و دردوي
آخر بې زاره شي له یاره سړی

چې کافر پربردي او مؤمن و وژني
داسې خو نه کړي ایماندار سړی

ستا پانې هم د جنګ بلا خوړلې
چیرته دمه وکړي چنار سړی ؟

د غره د هاغه لوړې څوکې څخه
پر دغه لار راځي تر ښاره سړی

کلي کې نشته د ښکلاو اتن
دلته راتلی نه شي له ډاره سړی

د خدای په عشق کې " شفاعت ریحانه!
شپه رنوي تر سپین سهاره سړی

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

کلیمي

شاعر مولوي «نظام» کندهاري

❖ درد

چینار ټکور

تلوارمه کړه لړونیه لږخوتم شه
شپږین عمره بېړنیه لږخو تم شه
په سلګوسلګوکې مه رانه تېرېږه
دژوندون مازدیګریه لږخوتم شه
دځوانۍ په درشل اوس یمه ګډ شوی
درته سوال کوم مرګیه لږخوتم شه
انقلاب دی خدای خبرچې بیابه راشې
طالب جانه ګلالیه لږخوتم شه
اسمانونه ځمکې دواړه درته ژاړي
اې ددرد سوې زګېړویه لږخوتم شه
همېشه په چیغوچیغومه ژړېږه
دټکورغریب زړګیه لږخوتم شه

چې کړې مو وعده ده ستا د مینې کلیمې
ساتو د زړه په وینه دې شیرینې کلیمې

دا ځکه رژوو د ژوند ګلونه ستا په غېږ کې
عارضه نشې رب ته نازنینې کلیمې

له (لوحه) تر (قلمه) له (سماء) نه تر (سَمَکه)
رتبې ته دې رسیږي نه سنګینې کلیمې

ښکلادې نظر مشه پرې ړندې شه بدې سترګې
دودېرو سپېلنې درته حسینې کلیمې

پر عرش وفرش خورې دې پلوشې دې ښایست
له ټولو کائناتو بهترینې کلیمې

سینو کې مو جذبې لکه لمبې راپورته کیږي
اوس اخلو انتقام به دې ای سپینې کلیمې

د ځُسن لمر یې خدایه د توهین له ترنځې ساته
(نظام) کړه نذرانه له دې مُبینې کلیمې

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

۲۰۱۷ زکال

دسپتمبر د میاشتې جهادي خبرونه

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

پر افغانانو د نوې استراتیژۍ نوې لوروني!!

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational and Cultural Monthly Journal

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com